مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد موسی کرزی ۲۰۱۸/۰۵/۳۰

ملي ګټي

لومړی برخه

په دغو ورځو کې د ملي ګټو اصطلاح ډېره اوریدل کیږي. حکومت وائي موږ باید د ملي ګټو لپاره یو شو. قومي، ژبني، منطقوي تمایلات پریږدو. یو موټی کیدل، حکومت وائي، زموږ د سولې، اقتصادي پرمختګ، خوشحالۍ او ان د افغانستان د بقا ضامن دی. خو حکومت زموږ سره دا نه شریکوی چې د پاکستان په مقابل کې موږ د امریکا ګټو ته ترجیح ورکوو که د افغانستان؟ آیا سعودي عربستان ته زموږ نژدیوالی ګټور دی که ایران؟ ایا ناپیلتوب رښتیا په دغسی وخت کې زموږ په ګټه دی چې پاکستان او ایران زموږ د ناپیلتوب درناوی نه لری؟ له بلې خوا رنګین دادفرسپنتا د طلوع تلویزون په یوه نوی مناظره کې د خلیلزاد سره وویل چې ګواکې اوسنی حکومت سم صحی ناپ ئېلی نه دی او د امریکا سره ډېر نښتئ دی. خو دا به ډېره په زړه پوری وی چې د سپنتا څخه ئې څوک واوری چې پخوانی حکومت هغه چې دی ئې ډېره موده لوړ مامور وو څومره د امریکا څه لیري وو او ناپ ئېلی وو. په عیني حال کې دحکومت مخالف اړخونه که څه طالبان یا محلي زورواکان او یا د پخواني حکومت چارواکي دی خپل مخالفت د ملي ګټو په رڼا کې بیانوي او ادعا کوی چې د ولسمشر اشرف غنی یا د یوالي حکومت ملي ګټي له پامه غورځولې دي. حکومت عیني تور پر خپلو مخالفینو لګوي. زما موخه دلته داده چې زموږ د هیواد په دغسی نازکو شرایطو کې زموږ خلک ، په خاص ډول زموږ ځوانان، ملي ګټو ته ځیرشی او بل دا چې د قلم په څښتنانو کې پر ملي ګټو یو بحث راپورته کړم.

ملي ګټو ته زموږ ځیر کیدل د یو بل اړخه هم ډېر مهم دي. د ثور د کودتاه راهیسی زموږ سیاسی مخور د مختلفو هیوادنو د پټو او امنیتي ایجنسیو سره په تماس کې راغلی او د هغوی لخوا ئې تمویل او حمایه تر لاسه کول. ددغو پټو ایجنسیو سیاسی نفوذ او اغیزي حتماً شته او د دي امکان باید ومنل شی چې د افغانانو ملی ګټي به شاته وغورځول شي. د مثال په ډول، راشی د امریکا د مداخلی را وروسته زموږ د ملي ګټو حالت ته وګورو. امریکا په سر کې د افغان حکومت او طالبانو تر منځ سوله ردول، د افغانستان د پوځ شمیر او تجهیز ئې د پاکستان پر خوښی برابر کړی وو، افغان حکومت ئې د پاکستان د نیوکو څخه منعه کړی وو، او د هند او افغانستان اړیکی ئې د پاکستان په غوښتنه محدود کړی وی. د افغان حکومت مشرانو او سیاسی مخورو دا ټول منلی وه یا ئې تعقیبول. دا په دی مانا وه چې د افغانستان د ټولواکی مهمي پریکړی ئې د پاکستان په اختیار کې ایښی وی او دا په داسی حال کې چې پاکستان یو خونړی بغاوت زموږ په هیواد کې په لار اچولی وو. ځینی افغانانو داسي احساس کاوه لکه امریکا چې زموږ لاسونه تر شاه راتړلی وه او پاکستان موږ په چړو وهلو او امریکا موږ ته ویل، چپ شئ!، ږغ مه لرئ!، چې پاکستان ستړی شی بیا به موخپله پریږدی. خو د پاکستان ډراکیولا (وموپایر،وینه چښونکی حیوان) ۴۰ کاله وروسته هم د افغانانو په وینو نه اوبه شو او نه ستومانه شو. امریکا د خپلو ګټو له کبله چې په پاکستان کې ئې درلودي زموږ پر خلګو ئې دا دومره وژنه، زخمونه، بی کوری، بی ځای کیدل، او کړاونه تحمیل کړی وه. په عیني حال کې، د حکومت د مخالفو ډلو مشرانو د آی ایس آی په خوله، څرنګه چې د ملا اخترمحمد منصور تر مرګ وروسته د هغه دپلویانو لخوا رسنیو ته را ووتل، ښوونځی، صحی مرکزونه، پاخه سړکان، پلونه او نوره عامه شتمنی ویرانوی او د دی لپاره چې پر حکومت د خلګو باور لږ شی په بازارنو او د ګڼی ګوڼی په ځایونو کې بمونه چاودي او ځانمرګی بریدونه کوی او په زورګونو عام اولس ته مرګ ژوبله اړوی. طالبان او د حقاني ډله د دی پر ځای چې خپل مخالفت د افغانستان د ملي ګټو په چوکاټ پر مخ بوځی دوی خپل عملیات د پاکستان پر ګټو، چې موخه ئې د افغانستان خرابی ده، بنا کړی دي.

بل داچې په افغانستان غوندي غریب او تر ډېره حده د سیاسته نا آګاه هیواد کې د بهرني هیواد مادي حمایت د سیاسی واک، مادي شتمنی، او مشرتوب ټکیت دی او ډېر دغسي سیاسی مخور چې هیڅ اهلیت د سیاسي مشرتوب نه لری په افغانستان کې د مشرتوب مقامونه ولکه کړي دي. دردونکي لا داده چې ډېر ناخبره افغانان دغه د پردیو په مالي

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

او سیاسی مرسته واک ته رسیدلي خپل ملی مشران بولي او په ډلو ډلو پر را ټول دي. په دي خبر نه دي چې که د افغانستان د ملي ګټو او د دغسی مشرانو د باندنی حامي د ګټو تر منځ تضاد راغلی، دغسی مشران به د خپل واک د ساتلو د پاره د حامي ګټي ساتلو ته ترجیح ورکړي. د دی احتمال هم شته چې باندنی امنیتي ایجنسی دي پر دغسی مشرانو بدنامونکی اسناد ولری خو هغوی کنټرول کي. دغسی ملوحظاتو ته په کتلو سره دا د هر رونړ اند افغان ملی او اخلاقي مسؤلیت دی چې خپل اولس په خاصه توګه ځوانان په خپلو ملی ګټو خبر او پوه کړي. دا به ډیره ګټوره وای که چیری موږ د دغسی هدف لپاره د ملی ګټو یوځیړنیز او سپارښتني مرکز درلودای.

په دغه لیکنه کي به دي ته وګورو چې ملي ګټي څه شي دي او د چا لخوا غوره کیږي. ملي ګټي هغو تګلارو ته ویل کیږي چې د یو دولت امنیتي، اقتصادی، او کلتوري واک په نړۍ کي ډېره وي. مختلف دولتونه او په دولتونو کي مختلفي ډلي پر ډول ډول اړخونو د ملي ګټو تاکید کوي. ځیني دولتونه لکه پاکستان، شمالي کوریا، ایران، اسرائیل او د منځني ختیځ ډیر دولتونه امنیتي خوا د خپلو هیوادونو اصلي ګټي بولي او دا نورو ګټو ته ټیټ ارزښت ورکوی. دغسی هیوادونه د حکومت د عوایدو ډیره برخه پر امنیتي اړخونو مصرفوی او د هیواد سیاسی تګلاری پر امنیتي اړتیاوو بنا کوی. نور هیوادونه لکه جاپان، کاناډا، استرالیا، مالیزیا، برازیل او ځني نور پر سوداګری او اقتصادي ګټو د هیواد ډیر تاکید کوی. ځنی بیا د بشرحقوق ، اولسواکی، د ښځو پر مختګ او داسی نور ارزښتونه په نړۍ کي خپروی. په دغه وروستی لاره کي دسکنډه نیویا یا شمالي اروپا هیوادونه، کاناډا، جرمنی، ډیر مهم رول لري. ملي ګټي په ولسواکو دولتونو کي د وخت د حکومت لخوا ټاکل کیږی او د حکومت د بدلیدلو سره کیدای شی بدلون وخوری. په پرمختللو ولسواکیو کي، مدني ټولني، څیړنیزمرکزونه، او د ټولني نور اورګانونه هم د سپارښتنی او مشوري رول اجرا کوی. خو په ځینو ناتوانه ولسواکیو کي لکه پاکستان او ایران ملي ګټي د پارلمان یا کابیني پر ځای د پوځ او آی اس آی (په پاکستان کي) او یا د ستر مشر او د محافظت شورا (په ایران کي) لخوا ټاکل کیږي. په هغو هیوادونو کي چې ولسواکي نه لري، ملي ګټي د حکومت دمشر او د هغه د خوښي د سلاکارانو لخوا ټاکل کیږي.

د ملي ګټو د دفاع او لاسته راوړلو په باره کي دوی اصلی تیوری،(۱) ریالست یا واقعیتی (واقعیت بین) او(۲) لیبرال یا اعتدالي، او د دوی تر سیوری لاندی څو نوری نظر ئي او تحلیلونه شته. واقعیتیان په دي باور دي چې نړۍ په انارشي کي ځای لري. نظم او قانون نشته. دولتونه ټولواک او د خپل سر دی او تر کوم نړیوال قانون لاندي ندي. داسی نړیوال حکومت نه شته لکه کورنۍ حکومت چې قانون او ترونونه پر ټولو یو شانته پلي کړی. هر دولت په دی کوښښ کي دی چې خپل واک ډیر کړی او د خپل ګاونډی یا سیال څخه دمخه شي او ځان په عصری وسلو سمبال او جنګ ته تیار واوسی او پرینږدی چې سیال هیواد په اسلحه یا تیاری کي ځني مخ ته لاړ شی. د دی کبله چې د یو زوره ور هیواد لخوا تر ولکه لاندی رانشی یا ئي خپلواکۍ اغیزمنده نه شي، هیوادونه، په خاص ډول وړوکي او کم وسه هیوادونه، د یو یا څو نسبتاً واکمنو هیوادونوسره په پوځي یا دفاعي تړون کي شاملیږی ، او یا په غیررسمي ډول د هغوی دساتني تر سائي لاندی ژوند کوی. خو دغسی تړونونه په وخت پوری اړه لری او همیشني نه وي. ابدي دوست او دښمن مانا نه لری لکه د بریتانیا د باندنیو چارو وزیر، لورډ پالمرستن ، چې په ۱۸۴۸ کي خپل پارلمان ته وویل: "دا یو تنګ نظره تګلاره ده چې فرض کو چې دغه هیواد یا هغه هیواد دي د انګلستان ابدي ملګری یا همیشنی دښمن وګڼل شي. موږ نه ابدي ملګری لرو نه همیشني دښمنان. زموږ ګټی ابدي او همیشنی دی او دا زموږ دنده ده چې دغه ګټی تعقیب کړو."

همدغه رنګه هغه دولتونه چې د ریالست یا واقعیتی تیوری پلوي کوي درواغ، چم ،غولول روا ګڼي. جورج شولتس د امریکا د باندنیو چارو وزیر د ۱۹۸۲ څخه بیا تر ۱۹۸۸په خپلو یادښتونو کي وائي کوم وخت چې د جنیوا تړون د افغانستان او پاکستان تر مینځ لاسلیک کیده، ده و جنرال ضیاالحق د پاکستان پوځي ولسمشر ته وویل چې دا تړون خو د وسلي په باره کي د مجاهدینو او د خلق د حکومت تر منځ نا برابری راولي، ځکه شورویان چې وزی خپله وسله او مهمات به د خلق حکومت ته پریږدی او موږ به د تړون په اساس نه شو کولای چې مجاهدینو ته پوځي مرستي ورکړو. ضیاالحق ویل چې ولي ئي نه شو ورکولای. شولتس وائي چې ما ورته وویل چې شورویان به خبر شی او پوښتنه به درڅخه وکړی بیا نو هغو ته څه وائي. جنرال ضیاالحق وویل چې شورویانو ته به درواغ ووایم. په اسلام کي، جنرال ضیاالحق وویل، دا روا دي چې دښمن ته درواغ ووائي. (خو موږ د حضرت محمد (ص) دمد ینی او حد یب ئېه د تړونونو څخه داسی مثال نه لرو.) اخلاقي ارزښتونه لکه د عامو خلګو وژنه یا هغوی ته تاوان رسیدل یا بیځایه کیدل او داسی نور هم د ریالست په تیوری کي ځای نه لری. د مهدی حسن د الجزیره تلویزیون په مناظر ئي ننداره کي د آی اس آی یو پخواني رئیس اسد دوراني دا ومنل چې آی اس آی د خپلو ملی ګټو د پاره د توند لارو او طالبانو په تجهیز او تربیه کولو کي اخلاقي ارزښتونه شا ته غورځوی او اهمیت نه ورته لری. همدغه رنګه دوه مخي، ده وویل، د آی اس آی یو مشروع تګلاره ده. د یوه انګریزی په وینا، دراني وویل، " که په یو وخت کي پر دوو آسانو نه سی سپریدلای نو باید د لوبي څخه ووزی".

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

د لیبرال یا اعتدالي تیوری د ملي ګټو نرم نظر لري. د دولتونو تر منځ همکاری او همږغي مني. تجارتي او اقتصادی اړیکی دولتونه یو پر بل متکي کوی او د سولي او همکاری خواته ئي رابولي. ځیني نړیوالي موضوعګاني لکه صحت، چاپیریال، کډوالي، لوږه، نالوستی، او داسی نور نړیوالي همکاری ته اړتیا لری او دولتونه باید په ګده ځواب ورته ووائي. نړیوال تړونونه، لیبرال تیوری وائي، تر ډیره کچه مراعت کیږی او په نړي کي ئي یونسبی نظم اوسنبالښت راوستلی دی. او یو ډول رژیم د ښو کړو وړو وجود لری. اخلاقي ارزښتونو ته دولتونه تر ډیره کچه متعهد دی. مثلاً جرمنی په ډیر لږ موده کي تر یو میلیون ډیر سوریا ئي او نور کډوال ومنل. امریکا دوه ځلی د بشار الاسد پر حکومت د کیمیا ئي وسلو د استعمالولو په خاطر بمباری وکړه. پر دولتو باندی څه نا څه اخلاقي فشار شته چي بشری حقوق، ښه حکومت داری، او ولسواکي ته غاړه کښیږدي. خو ریالست بیا ودی ته ګوری چي د نړی دولتونو و نه کولای شوای چي د روندا، بوسنیا، کاسوو، دارپور یا د ځینو نورو افریقائي هیوادو ناورین د پیښیدولو څخه د مخه یا ژر تر ژر حل کړی. د افغانستان د ۴۰ کالو خونړی حالت یو بل مثال دی چي نړی و نه کولای شوای د پای ټکی ورته کښیږدي. ریالست د دي او نورو دغسی کورنیو جګړو او نړیوال تاوتریخوالي نه حلیدل د دولتونو د ملي ګټو ټګر بولي. اوس به راشو د دغه لوړ بیان په رڼا کي به په افغانستان کي د را ښکیلو دولتونو ملي ګټو ته وګورو او بیا به د افغانستان ملي ګټو ته نظر واچوو.

۱. پاکستان

هیڅ یو بل هیواد د خپلو ملي ګټو لپاره دومره ژوری او پراخي غوښتني د افغانستان څخه نه لری لکه پاکستان. پاکستان غواړي چي د افغانستان د حکومت پرکورني جوړښت او باندنی تګلاره کنټرول ولري او له دي کبله د افغانستان ټولواکی بي مانا کړي. پاکستان یا د افغانستان کنټرول غواړی او یا هلته ابدی کورنی جګړه یا بی ثباتي. داچي د افغانستان مخکني حکومت ولي دومره اسلام آباد ته منډی را منډی وهلي یا ډیر ساده او یا بی چاره وو. ولسمشر اشرف غني د پاکستان د پوځ لیدلوری د افغانستان په باره کي پوره درک کړ. هغه د خپلي ولسمشری په لومړیو ورځو کي د پاکستان پوځ، په پاکستان کي د افغانستان د تګلاری اصلي جوړونکی ، مرکز ته په راولپنډی کي لاړی. ولسمشر غني په یو تازه مجلس کي د هغه سفر په باره کي وویل چي ده د دوستی لاس پاکستان ته ور وغزاوه خو پاکستان پرتو کړه. په هغه سفر کي ولسمشر غني د پاکستان پوځي واکمن راحیل شریف څخه وغوښتل چي د افغانستان ټولواکي ته ژمن شی او د افغانستان د حکومت د مخالیفینومرسته او پټنځایونه ودروی نو افغانستان به په بدل کي د هند څخه ځان لیري کي، په پاکستان کي به پوځي افسران تربیه کړي، او د پاکستان پښتانه او بلوڅ به پری نږدی چي د پاکستان پر ضد د افغانستان خاوره وکاروی. ولسمشر غني په دغه لاره کي عملي ګامونه هم واخیستل. د هند سفر ئي وځنډاوه، څو افغاني افسران ئي پاکستان ته د روزنی د پاره واستول، د تحریک طالبان پاکستان مشر حاکیم الله مسعود ئي پاکستان ته وسپاری، او په کنړ کي ئي پر هغو پوځی عملیات وکړل. چي په نتیجه کي ئي د تحریک طالبان پاکستان ځني غړی، هغه چي د افغانستان سره ئي تر دغه وخته هیڅ دښمني نه درلوده، داعیش ته وروښتل او د افغانستان د حکومت سخت دوښمنان شول. د پاکستان فوځ، په عیني حال کي، خپلي ژمني عملي نه کړی او د طالبانو پوځي کامیابي یا روانه کورنی جګړي ته ئي ترجیح ورکړه. او د آی ایس آی د پخواني مشرحمید ګل وینا ئي، چي ویل ئي "حامد کرزی [او په ضمن کي اشرف غني] او امریکا بالا تاریخي شوه، راتلونکی د طالبانو ده "، خپله کړه. دغه دلیل وو چي ولسمشر غني د پاکستان څخه ناهیلی شواو د هغه پر ضد ئي آواز پورته کړ.

کوم وخت چي جنرال ضیاالحق د پاکستان پوځي ولسمشر د امریکا سره د افغانستان په جهاد کي خپل همکاري په دي پوری وتړل چي راتلونکی افغان حکومت باید د پاکستان "دوست" وی، د هغه راهیسی پاکستان دا د ځان حق بولي چي په افغانستان کي د خپلي خوښي حکومت واک ته راولي. هر باور په دي چي جنرال ضیاالحق یو ښه مسلمان وو او د افغانستان د جهاد سره ئي مینه درلوده او یا د پاکستان د پوځ او سیاستوالو د مسلماني وروری او خواخوږی ویناوی د پاکستان د افغانستان پر تګلاره کومه اغیزه لری، یو لویه سادګي ده. ښه "دوست" یو کوډ یا شفري اصطلاح ده او د پاکستان پوځ ته په افغانستان کي د یو کنټرول حکومت په مانا ده. دغه اصطلاح د پاکستان پوځ تر اوسه استعمالوی. "دوست" حکومت په افغانستان کي باید (۱) د پښتنو او بلوڅو ملت پالنه خونسا کړي، (۲) د افغان ملت پالني پر ځای اسلام پالنه وپالي، (۳) د هند په مقابل کي د راولپنډی دریځ په پوره مانا سپورټ کړي او پاکستان ته ستراتیژیکی ژوروالي ورکړي ان تر دي چي پاکستان هلته خپلي جنګي الوتکي او نوره وسله د هند څخه خوندی وساتي، (۴) او د منځنی آسیا هیوادونه د پاکستان کلتوری (سخت دریځه اسلام)، اقتصادی، او سیاسی نفوذ ته خلاصه کړی. د طالبانو حکومت د پاکستان دغه هیلي تر ډیري کچي سرته رسولي وی. دغه دلیل وو چي د پاکستان فوځ علایده جنګي ګیم یا بازی وکړه د مخه تر دي چي د جورج بوش غوښتني ته د طالبانو د حکومت په را پرځولو کي مثبت ځواب ووائي. د پاکستان پوځي ولسمشر پرویز مشرف وائي د منفي ځواب په حالت کي دوی د هری خوا بایلل. خو د پاکستان د هو ځواب و امریکا ته لنډ مهاله وو. کوم وخت چي امریکا د طالبانو حکومت راوپورځاوه او د غچ تنده ئي یو څه ماته شوه، نو ئي خپلی اصلی ستراتیژیکی موخي، یانی د عراق رژیم بدلولو او کنټرولول، ته مخ

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

وروارواه. پاکستان د موقع څخه ګټه پورته کړل او بیرته ئې د افغانستان د کنټرول یا بربادی لوبه شروع کړه چې موخه ئې د طالبانو واک ته رسول او یا راوانه کورنۍ جګړه ده.

ولی پاکستان دغه لوړه تګلاره د افغانستان په هکله په مخه کړی ده؟ پاکستان دا ادعا کوی چې یو نا اسلام پاله افغان حکومت د هغه و مخکني بشپړتیا ته تهدید دی. دغسی افغان حکومت به پښتانه او بلوڅ ځنی جلا کړی. خو پاکستان ډیر غټ هیواد دی، یو میلیون ته نژدی پوځ لری، اتومي وسله لری نو څرنګه ئې وړوکی افغانستان چې نه داسی عاید لری او نه داسی واکمن پوځ لری تهدیده ولای شي. دا لکه اسرائیل چې وای موږ د فلسطینانو خاوره په دي ولکه کړی ده چې هغوی موږ دریاب ته غورځوی. دا د مظلوم پړول دي په ظلم. پاکستان داسی یو تاریخي مثال هم نه لری چې ګوته ورته ونیسی. افغانستان څو ځله داسی موقعه درلوده چې د خپلی خاوری د بیرته نیولو اقدام وکړی. د ۱۹۴۸ د هند او پاکستان د بیلتون ګډوډی یو داسی فرصت وو چې افغانستان د خپلی خاوری د راګرځیدلو لپاره پوځي اقدام کړی وای. د هند او پاکستان دویمه (۱۹۶۵) او دریمه (۱۹۷۱) جګړه نور فرصتونه وه چې افغانستان په خپله ګټه ونه کارول. نه لکه پاکستان، افغانستان د مسلمانانو وینی تویول جدی ګڼل او نه ئې غوښتل چې یو زخمی مسلمان هیواد تر پښو راکش کړی. د پاکستان بله ادعا داده چې هند، هغه چې پاکستان ئې د خپل دولت حیاتي دښمن بولي، د افغانستان خاوره د دوی په ضد کاروی. بلوڅ ملت پاله، پاکستان ادعا لری، د افغانستان له لاری د هند حمایت تر لاسه کوی. خو پاکستان د خپلي ادعا د پاره کوم ثبوت نه دي وړاندي کړی. کوم ثبوت چې پاکستان د هند د لاس وهنی دنیا ته په دا شلو کالو کي وړاندي کړی دي هغه د هند د پټی ایجنسی مامور پوځی قومندان کولبشن جادهو دی، چې د ایران لخوا دذپاکستان بلوچستان ایالت ته راغلی وو نه د افغانستان د لاری. بل داچې امریکا تر افغانستان د پاکستان د ګټو خیال ساته او دا امکان نه لری چې امریکا دی د پاکستان پرضد فعالیتونه ته اجازه ورکړی. کوم وخت چې د پاکستان د پارلمان هیأت (اپریل ۲۰۱۷) افغانستان ته راغلی وو ولسمشر اشرف غنی هغو ته وړاندیز وکړی چې افغانستان او پاکستان دي دواړه یو دریم هیواد ته د پلټنی او تثبیت حق ورکړی او د هرهیواد خاوره چې د هغه بل هیواد په ضد کاریدل هغه فعالیت به درول کیږی. پاکستان دي وړاندیز ته تر اوسه ځواب نه دی ورکړی. دغه پورته ادعاوی د پاکستان د اصلي ګټو تر شاه تشی بهاني دي. پاکستان د افغانستان کنټرول غواړی د خپل ستراتیژیکی ژوروالي لپاره او د منځنی اسیا د کنټرول لپاره. کوم وخت چې طالبانو هرات ونیوی کرنیل امام چې د آی ایس آی د افغانستان د جهاد متخصص وو او په هرات کي د پاکستان قونسل وو وویل، "تن هرات سبا بخارا." او دا د شوني لیری نه ده. د منځنی اسیا دولتونه نوی دي او دومره سیاسی او مؤسیسوی زغم نه لری. تاجکستان او ازبکستان دواړه اسلام پاله ګوندونه لری. هغه داعیشي چې د ترکیه په یوه کلب کي ئې یو څو موده دمخه بمب وچاوده هغه د ګرجستان تبعه و. ګرجستان او ترکمنستان هم شاید داسی خلګ ولری یا ئې پیدا کړی چې اسلام پاله ګوندونو ته لاره هواره کړی او د آی ایس آی په مټه یو قوی بغاوت شروع کړی او یا حکومت راوپورځوی.

افغانستان د خپلو ملي ګټود ساتلولپاره باید د پاکستان په مقابل څرنګه تګلاره خپله کړی؟ پاکستان د سړو د شمیرله اړخه تر موږ شپږ واره غټ دی او کورني عاید ئې تر موږ لس واره ډیر دي. په دی سربیره موږ په کورنۍ جګړه هم اخته یو او یو موټی هم نه یو. مګر زموږ جغرافیائي موقعیت او د نورو دولتونو ستراتیژکي ګټي موږ ته دا چانس راکوی چې د پاکستان په مقابل کي د خپلو ګټو دفاع وکړو. مثلا د امریکا حکومت، چې دپاکستان د سخت دریځه اسلام خپرولو پروژی ته ناوخته راویښ شو او د افغانستان د جهاد په دوران کي ئې خپله پلوئ و، اوس د پاکستان د پوځ او آی ایس آی د سخت دریځه اسلام د خپرولو،که دننه په پاکستان کي وی که دباندي، سخته کرکه لری. خو دا چې دا یوازنی لاره ده چې پاکستان خپلي ملی ګټی په افغانستان او نورو مسلمانو دولتونو کي غزوی نو د امریکا سره په یو اوږدمهاله ټکر کي راکښیوزی. خو امریکا په هغسی تګلارو کي چې پاکستان ته د سخت دریځی د پاللو تر ګټي تاوان ډیر کړی ډیره سوکه را روانه ده. د امریکا دلیل دادی چې پاکستان داسی دی لکه یو ډیر پوخ رومی. که ئې چیری په زوره کښیکاږی نو وبه چاودي او ټوله منطقه به ناارامه کړی اومهاجرین او تروریزم به ئې دنیا پرسر واخلی او زره وی وسله به ئې د تروریستانو یا سخت دریځه اسلام پالو په لاس کي ورسی، اود دا اوسني ویسکي چښونکو غرب زده افسرانو پر ځای به سخت دریځه اسلام پاله واک ته ورسیږی. د پاکستان پوځ هم د امریکا دغه اندیښنه په ښه ډول درک کړی ده او د هغه څخه ګټه پورته کوی. جنرال مشرف په داسی حال کي چې د ویسکي پیاله به ئې په لاس کي وه و خپلو امریکائي مجلسیانو ته دا وریادول چې که چیری پر پاکستان فشار راوړی نو ددوی پر ځای به اسلام پاله راشي. خو په داسی حال کي چې افغانستان د تباهی سره مخامخ دی موږ بله چاره نه لرو. په هر ډول چې وی باید د پاکستان د لاسوهنی مخه ونیسو. خو د افغانستان سیاسی مخور یا ایلیټ پر امریکا بیخي ډیر متکي دي او امکان نه لری چې دومره فشار دي د امریکا پر حکومت راولي چې هغه د افغانانو د بی ساری خوږ او درد په کچه وی. خو مدني ټولني، خبری رسنی، لیکوالان، قومي مشران، د سوداګری خوني دا ټول باید پر حکومت فشار راوړی چې د امریکا څخه غوښتنی تندی کړی. امریکا ته نه ښائي چې زموږ وژنه او ویراني دومره سپکه ونیسی.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بني پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

هغه باید یا زموږ سره په رښتیا ودریږی یا ووځی. په رښتیا دریدل دادی چې پاکستان دې اړ کړای شی چې سملاسی مرسته او پټنځایونه ودروی که نه په افغانستان کې به دا حال تر ابده روان وی.

بل داچې که څه هم پاکستان یو لوی هیواد دی، پاکستان هم خپل خوږ ځایونه لری. پاکستان یو لوی او قوی دښمن گاونډی لری او د پوځ ډیره برخه ئې هلته بنده ده. د بلوڅانو، پښتنو، مهاجرو، سندیانو، او سراکیانو د ملتپالو او نا راضیانو د غوښتنو سره لاس گریوان دی. د پاکستان د نه همکاری په شتون کې موږ کولای شو چې د هند په مرسته دغه حرکتونه حمایت کړو او په پاکستان کې یو قوی بغاوت را منځته کړو. موږ د ستراتیژیکی تړون له مخه چې له هند سره ئې لرو کولای شو چې دهند د پنځو میلیونو پوځیانو څخه یوڅه دعوت کړو او د پاکستان سره ئې پر پوله ځای پر ځای کړو. دا به د پاکستان د پوځیانو هغه بد خوب رښتیا کړی. زموږ په خپلواکي کې د هند ملي گټې دي. پاکستان د افغانستان کنټرول د هند په مقابل کې غواړی. د مجاهدینو او طالبانو په وخت کښی د کشمیر جنگیالیان په افغانستان کې روزل کیدل. دا دهند د پاره اړینه ده چې د افغانستان سره ودریږی او پری ئې نږدي چې د پاکستان تر ولکه لاندي راشی. موږ باید د پاکستان سفارت او قونسلگری، چې بیله هغه د آی ایس آی د ځالو رول اجرا کوی، وتړو لکه د محمد داود د لومړی وزارت په وخت کې. موږ باید پرینږدو چې پاکستان زموږ دلاری د منځنی اسیا سره سوداگری وکړی. موږ باید خپل پولې وتړو او موږ باید پرینږدو چې یو څاڅکی اوبه زموږ له خاوری پاکستان ته ولاړی شي او د هند په مرسته پر هغو رودونو چې پاکستان ته ځي د بندونو جوړولو ته لومړیتوب ورکړو. موږ باید پاکستان ته په افغانستان کې د لاسوهنو تر گټو تاوان څومره چې ډیره ولای شو ډیر کړو.

۲. ایران

ایران د پاکستان په څیر د خپلو ملي گټو لپاره زموږ څخه داسی حیاتی غوښتنې نه لری. پاکستان، هغه چې دویمه غټه قومي ډله ئې پښتانه دی، زموږ په ملت پالنه کې ځانته ډار احساسوی فقط لکه اسرائیل چې ئې د فلسطینیانو په ملت پالنه کې ځانته احساسوی. ایران دا مشکل نه لری او قومونه ئې تر پاکستان نسبتا ډیر اخښلي دي. د ایران لویه لږکی ترکان دی خو شیعه مذهب هغوی په ایران کې ښه میشت کړی دی. اوسني اوازونه چې د ایران څخه راپورته کیږی هغه د اوبو په باره کی دي. موږ یو ځل دمخه د اوبو پر سر د ایران سره جوړ جاړي ته رسیدلي یو او بیا به هم ورسیږو. ایران برسیره پر هغه اوږد مهاله دښمني چې د امریکا سره لری، و امریکا ته ئې په عراق کې کوم جدی پرابلم نه دی جوړ کړی. باالعکس لویه سر دردی د امریکا دوستانو ورته جوړه کړه چې سني جنگیالیو ته ئې پیسی او وسلې ورکولې. دغه سني جنگیالیان په القاعده او بیا په داعش بدل شوه. ایران تر افغانستان په عراق کې ډیر نفوذ درلودی او هم ئې تر افغانستان اهمیت ورته درلود او کولای شوای چې امریکا په یوه ډیره اوږد مهاله خونړی جگړه کې وساتي لکه د امریکا دوست پاکستان چې امریکا په افغانستان کې وساتل. همدغه رنگه دومره مادی مرستي چې د خلیج سني هیوادونو د طالبانو او داعیش سره کړی ایران نه دي کړي. ایران د امریکا سره د طالبانو د حکومت په راپورځولو کې او د نوی حکومت په جوړولو کې مرسته کړی ده او تر ۲۰۱۴ پوری داسی راپورونه نه اوریدل کیدل چې ایران دي د طالبانو سره مرسته کړی وی. ایران په افغانستان کې د امریکا پر شتوالي داسی علائده خطر نه وینی ځکه امریکا د ایران پر شا او خوا ډیري پوځي اډی لري (ترکیه، قطر، بحرین، امارات، عراق، کویټ، سعودی عربیا). ایران د سعودی سره په منطقوی رقابت کې سخت ښکیل دی خو که موږ خوا ونه نیسو دا پر موږ دومره ډیر اغیزه نه کوی. ایران پوهیږي چې سعودی عربان موږ ته تل د پاکستان له عینکو څخه کتلي دي او اهمیت ئې نه دی راکړی.

په دا نژدی کلو کې هم د امریکا او هم د افغانستان لخوا پر ایران باندي دا تورنه ډیریږی چې د طالبانو سره د وسلې او پیسو مرسته کوی. په فراه ولایت کې د طالبانو د نفوذ ډیریدل او په مې ۲۰۱۸ کې د فراه پر ښار حمله کول او ښار ته داخیلدل دا تورنو ته نور اعتبار هم ورکړ. که دا تورونه رښتیا وی ولې ایران د طالبانو حمایت کوی؟ ایران، نه لکه پاکستان، د طالبانو حکومت په افغانستان کې نه غواړي. که چیری دا اوس طالبان د افغانستان حکومت ونیسی، ایران به ئې مخالف خوا ته مرسته ورکوی لکه د طالبانو د واک په وخت کې چې ئې ورکول. ایران ښائي د روس ئې تر فشار لاندی د طالبانو حمایت کوی. ایران پر روسیه باندی د وسلو او ډیپلوماټیک سپورټ لخوا ډیر متکی دی او د سورئې د کړکیچ راهیسی دا دوه هیوادونه نور هم نژدی شوی دی. ددواړو هیوادنو دا دلیل چې ولې طالبانو سره اړیکي لری هم یو شانته دی . روسیه او ایران وائي چې ددوی اړیکی له طالبانو سره په دي دی چې طالبان سولې ته راوبولي او طالبان د داعیش سره جنگیږی. د ایران بل دلیل به دا وی چې د امریکا د اعلان څخه وروسته چې ښائي د افغانستان څخه ووزی غوښتل ئې چې د طالبانو سره اړیکی ونیسی او کوښښ وکړي چې طالبان یوازی د پاکستان او سعودی نفوذ ته پرینږدي. دا هم کیدای شی چې ځینی حکومتي ارگانونه لکه پاسداران انقلاب دي په خپل سر د طالبانو سره مرسته کوی. مهمه داده چې ایران د طالبانو سره داسی اورگانیک اړیکی نه لری لکه پاکستان او کیدای شی چې په اسانې سره مخ واړه وی. په دی کې لږ باور لیدل کیږی چې ایران دي د اوبو یا ټاپیی دگیس د پایب

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

پر سرطالبانو ته پراخه حمایه ورکړی. ایران لا د وخته د هند لپاره د ګاز پایب د پاکستان تر پولې رارسولی دی خو سربیره پر دې چې د پاکستان د ملکي حکومت سره ئې تړون لاسلیک کړی دی پوځ ئې نه پریږدی چې دا پایپ د پاکستان له خاوری هند ته ورسیږی. ایران پوهیږی چې د ټاپپی د ګاز حالت به همدغسی وی. افغان حکومت باید په لوړ کچه د ایران سره سپیني خبري وکړي. که چیری موږ د ایران د لاس وهني شواهد لرو باید ورښکاره ئې کړو. موږ باید ایران ته ډاډ ورکړوچې موږ د دوی، امریکا، او سعودي تر منځ ناپېلي پاته کیږو خو ایران ته ښائي چې هر ډول لاسوهنه، په شمول د پیسو ویشل و افغاني سیاستوالو، جګپوړو مامورینو، او جنګ سالارانو ته ودروی. د ایران اړیکه باید، لکه ولسمشر غنی چې وائي، دولت په دولت وی. او که چیری داسی ونه کړی نو موږ به دایران د لاسوهنی شواهد د ملګرو ملتونو، اروپائي ټولنی او نور دوستو هیوادنو سره شریک کړو او دا غوښتنه به کوو چې هغه دی په سمه یا په فشار ایران دی ته اړ کړی چې په افغانستان کې د جنګ د حمائي څخه لاس واخلي. موږ به ایران ته دا هم ووایو لکه د هند لومړی وزیر نریندرا مودي چې پاکستان ته وویل چې "اوبه او وینه نه ګډیږی" او اوبه به په ټپه ودروو، او د ایران د کورني او باندني دښمنانو ته به هم ځای ورکو هم وسله.

د ایران سره موږ باید د مرستي په بدل کې د اوبو پر ویش جوړ جاړي ته ورسیږو او هغه مرسته د اوبو پر ښه اداره او مهار کولو مصرف کړو. د ایران سره زموږ کلنی سوداګری اوس تر دوه زره میلیونه زیاته ده او د چابهار د بندر د جوړیدو د پای ته رسیدلو سره به دا سوداګری نور هم ډیره شی. هند د ایران سره د ډیره وخته ښه اړیکي لری او د چابهار د بندر لوی پانګه اچونکی دی. هند زموږ او د ایران د اړیکو په ښه کولو کې مرسته کولای شی. افغانستان منځنی اسیا د ایران سره نښلولای شي او د هند او چین اوسنی اعلامیه چې په افغانستان کې پر ګډو پروژو کار وکړی، په خاص ډول د منځنی اسیا او افغانستان د ایرانه سره نښلول ایران ته ډیری ګټي لری او دا به د ایران د ملی ګټو په ضد وی چې دافغانستان د ارامی په خلاف کار وکړی او خپلی ګټي په خطر کې واچوی.

۳. هند

هند د افغانستان
نوربیا

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ